ليکوال : پوهنوال رسول باوري

# د يوې غميز ي ياد او يو هڅونکې وړانديز

له بده مرغه، شپږ کاله وړاندي د مارچ مياشت په لومړۍ اونۍ کي د يوه ګړندي تبليغاتي کمپاين تر پوښ لاندي د عربي بنسټپالو کړيو په مخامخ لمسون طالب واکمنانو د بودائي پيرزياتي مجسمي او له هغې جملې د صلصال او شمامې په نوم دوې ستري مجسمې چي يوه (۵۳) متره لوړه او د بلي لوړوالی (۳۵ ) متره ته رسيدی، د شرعي فتوی تر نوم لاندي وراني او ويجاړي کړې . دا چي ولي نوموړي مجسمې وراني او وچوول شوې ؟ هغه پوښتنه ده چي لا يې بشپړ ځواب ويلو ته هيڅوک چمتو نه دي. له پېله ديني پوهانو دهغې فتوی شرعي توب ونه مانه ؛ ټولو افغانانو د دي نا وړه کړو مخنيوی غوښت ؛نړيوالو علمي او کلتوري موسيسوهم تر زياته بريده زيار وه ايست چي د هغه امر د پلي کيدو مخه ونيسي ؛ خو دا ټول ونه توانيدل. داسي بريښيدل چي د بودايې مجسمو ورا نول هم د يوه اوږده پلان يوه برخه وه چي مخنوی يې شونی نه وو ، داسي لکه د نيويارک او واشنګټن د سترو برجونو او ودانيو په څير ، چي د ورانی مخنيوی يې ونه شو.

په افغانستان کي د بودايې مهال د مجسمو او نور اړوندواثار موجوديت نه يوازي د دې هيواد د لرغوني تاريخ لپاره ارزښتمن وه او دي، بلکي د سيمي او نړۍ د تاريخ لپاره هم هغه مرستيال توکي دي چي د شتون پرته يې د نړۍ تاريخ بشپړ نشي بلل کيدای. خو له بده مرغه زموږ د هيواد د کلتور او تاريخ دښمنانو د يوه بشپړکلتوري ناتار په ترڅ کي د دې هيواد دبودايې پير زياتي مجسمې له مينځه يوړې ، او په ځانګړي توګه د باميانو ولايت هغه دوې ستري مجسمې هم وراني شوې چي د هر افغان لپاره د تير تاريخ ستره بيلګه وه.
د باميانود مجسمو په اړه تر ټولو پخواني معلومات د چيني زيارت کونکو له خوا ليکل شوي او لا تر اوسه زموږ په واک کي شته . ((فاهيان )) تر ټولو پخوانی چيني زيارت کونکی دی چي د باميانو په اړه ليکني لري . نوموړي په ۴۰۰ ميلادي کال د باميانو دره ليدلې او د سترو مجسمو په اړه يې ارزښتمن معلومات ليکلي دي . هغه ليکي چي : د باميانو دره شنه او پاکه ده ،د سترو مجسمو شاه او خوا هره ورځ وينځل کيږي ،زيات شمير مذهبي مدرسې شته ، هره ورځ زيارت کونکي او سوداګران دي سيمي ته د تلو راتلو په حال کي دي . د را هبانو لپاره ځانګړي صومعي جوړي شوي، او د مواشيو او بوده ګانو لپاره بيل ټاټوبي شته.

تر فاهيان وروسته بل چيني زيارت کونکی (( هيونتسنګ )) وو چي د باميانو سيمه يې ليدلې او په خپلو يونليکونو کي يې زيات ارزښتمن مطالب را ټول کړيدي، نوموړي په ۶۰۰ ميلادي کال د افغانستان سفر کړی او په دي لار کي يې د باميانو سيمه هم ليدلې ده. د هغه په قول په باميانو کي تر لس زياتي خانقاوي شته چي په هغو کي څه ناڅه زرتنه واعظين د بودايې مذهب تبليغ ته ګمارل شويدي. په لسګونو مدرسې شته چي هره مدرسه کي لږ ترلږه زرتنه زده کونکي روزل کيږي. هيونتسنګ په باميانو کي وړي او لويي مجسمي ليدلي خو يوه داسي مجسمه يې هم ليدلې چي د هر سهار د لمر په وړانګو به هغې مجسمې طلايې رنګ اخستی اوداسي بريښيدل لکه دا ټوله مجسمه چي د طلا څخه جوړه شوي وي . تر هيونتسنګ وروسته کوريايې زيارت کونکی د باميانو په اړه پوره معلومات لري. نوموړی په ۷۲۷ ميلادي کال باميانو ته سفر کړی او په سيمه کي يې د بودايې مذهب د پيروانو د شتون په اړه ليکني کړيدي.
د زيارت کونکو تر يادونو وروسته څه ناڅه دري سوه ( ۳۰۰ )کاله د باميانو او په ځانګړي توګه د سترو مجسمو په اړه باوري معلومات نه دي ليکل شوي، د دي سره سره چي د يوشمير مورخينو په ليکنو کي د مجسمو يادونه شوې، چي د بيلګي په توګه د طبري، يعقوبي، البيروني نومونه رايادولای شو. خو هغه وخت د باميانو د مجسمو يادونه يوځل بيا وشوه چي د تموچين يا چنګيز ورانکارو غوښتل چي د سترو مجسمو لوړ سر ته خپلي غشي ورسوي ، چي هيڅ يو هم په دې ونه توانيدی چي د لويی مجسمي سر ته خپل غشی ورسوي. او تر هغو ورانکارو وروسته د اولسمي ميلادي پيړۍ په جريان کي د اورنګ زيب لښکرو د توپ د ډزو په وسيله د لوي مجسمي مخ ته زيان واړاوه.

د افغان انګليس د لومړۍ جګړي پر وخت د ليدي سيل په وسيله د باميانو او بودايې مجسمو په اړه يو لړ خپروني وشوې، برنس په ۱۸۱۹ ميلادي کال باميانو ته ورسيدی او د بودايې مجسمو او په باميانو کي د نورو نقاشيو په اړه يې زيات مطالب وليکل او بيايې په بيلا بيلو خپرونو کي نشر ته وسپارل .چارلس مسون په ۱۸۳۵ ميلادي کال د بودا دوې ستري مجسمي وليدلې او د دي مجسمو په دننه کي يې د يوي لاري د شتون خبره سپينه کړل چي په پخوانيو وختونو کي به زيارت کونکو د ستري مجسمي و لوړو برخو ته رسيدل .کپتان متلاند په ۱۹۲۲ _ ۱۹۲۴ ميلادي

کالونو په ترځ کي باميانو ته سفر وکړ او د سترو مجسمو د جوړښت او د هغو جدارونو په اړه يې څېړنی او پلټني تر سره کړې.
په افغانستان کي د رسمي سپړنو او څېړنو د پيل را وروسته ( ۱۹۲۲ ميلادي کال ) د باميانو ستر ي مجسمي لومړی د فرانسوي لرغونپوه ( الفرد فوشه ۱۹۲۲ ميلادي کال ) لخوا وڅېړل شوي. د نوموړي په اند دا مجسې د هندي راورتي مجسمو سره يوشان دي . نوموړي په خپلو څېړنو کي څرګنده کړل چي په څلورمه او پنځمه ميلادي پېړۍ کي د بودا دوي ستري مجسمې چي يوه د صلصال او بله د شامامه په نوم يادېدې، جوړي شوي وې. د دي سترو مجسمو په اړه دعلمي سپړنو او څېړنوکارد فرانسوي لرغونپوهانو په وسيله پيل او بيا وروسته د نورو هيوادونو لرغونپوهانو هغو څېړنو ته دوام ورکړيدی چي د بيلګي په توګه د هندي، جاپاني، چيني، او افغاني لرغونپوهانو يادونه کولاي شو.

د باميانو لرغوني اثار د ګريک بوديک او په ځانګړي توګه د ګندهارا د هنر ارزښتمني بيلګي او يادګارونه دي، خو له بده مرغه په راورسته شلو کالونو کي په پرله پسې توګه د عمدي او غير عمدي زيانو نو سره مخامخ شول. فرانسوي نامتو اونيزي L.Xpress د باميانو د سترو مجسمو او نورو لرغونو اثارو په اړه په ۱۹۹٦ ميلادي کال وليکل چي (( د باميانو د سترو مجسمو د پښو په برخه کي چي نورو سمڅو ته له هم هاغه ځايه لار جوړه شويده، هلته اوس کلاشنکوفونه، راکټلانچرونه اونوري ډول ډول مرمۍ د بيلا بيلو قوماندانانو له خوا ځای پر ځای شويدي، پخواني بودائيانو ته هغه سپيڅلی حرم اوس د يوه نامنظم نظامي ډيپو په څير کارول کيږي، چي هره لحظه يې د چاودلو او له مينځه تللو خطر شته، او هيڅ ډول مصونيت نه لري. هغه لرغوني نقاشۍ او رسامۍ چي د مجسمو پر شا او خواد تزئين په نيت جوړي شوي وې، هغه هم يوشمير يا له منځه تللي اويا د مرميو په وسيله له خپله ځايه بيځايه شوي او وراني شويدي . د ورانۍ مخنيوی خو يې نشته يوازنۍ څه چي هلته په ستر ګو کيږي هغه په زښت او کرغيړن ليک ليکل شوي چي (( قومندان دين محمد او قومندان همايون د جوزجان ولايت ( ۱۹۹۵ ميلادي کال )).
په باميانو کي د لرغونو اثارو دمصونيت او ساتني چاري زموږ په هيواد کي د دي اوږدې غميزي د پيل سره يوځای له مينځه ولاړې او ور ورو يې د لوټ تا لان او ورانۍ لړۍ داسي پيل شوه چي په ۲۰۰۱ ميلادي کال د مارچ مياشتي په لومړۍ اونۍ کي خپلي لوړي کچي ته ورسيدل، او د افغانستان په تاريخ کي ديوي غمجني پيښي په توګه هغه دوه ستر او ارزښتمن وياړونه ( صلصال او شا ما مه ) د بهرنيو د سيسو په نتيجه کي د طالبانو له خوا د چاوديدونکو موادو په کارولو سره د يوزر او پنځه سوه کاله پايښت وروسته وچوول شوه ، چي نن د هغه ناورين شپږکاله پوره شول، خو لا تر اوسه هغه مجرمين او ورانکاري د هغه ملي خيانت او ويجاړونکي عمل په جزا نه دي رسيدلي . د دې سره سره چي په هغه وخت کي د طالبانو والي ( مولوي محمد اسلام محمدي ) د يوه تروريستي بريد په نتيجه کي و وژل شو، خو د هغه جنايت په اړه ونه پوښتل شو چي ولي يې د هيواد د ستر تاريخي وياړ د له مينځه وړلو مخنوی ونه کړ.

د يوه هڅونکي وړانديز په توګه غواړم د افغانستان واکمني اداري او د هېواد د روڼ اند پام دې ټکي ته واړوم چي، په هېواد کي د دوو سترو مجسمو ورانېدل او د نورولويو او وړو مجسمو له مينځه وړل په رښتني توګه د عربي بنسټپالو هغه ناوړه يرغل ؤ چي هيرېدل يې شوني نه دي. د دې لپاره چي هغه تاريخي ناورين د يوه نه هيرېدونکي لوست په توګه راتلونکو نسلونو ته همېشنۍ شي، او له بل پلوه دا غميزه د يوه کلتوري هڅوني په څير وساتل شي. وړانديز کوم چي : د دولت له لوري دي هر کال د مارچ مياشت لومړۍ اونۍ يا د کب مياشتي دويمه اونۍ په هېواد کي د (( دکلتوري ويښتيااونۍ )) تر سر ليک لاندي په رسمي توګه د نمانځني وړ وګرځوي. د دې وړانديز موخه دا ده چي د دې اونۍ په ترځ کي به د موزيمونو سره مرستي ( مالي او مانيز ) د لرغونو سيمو د ساتني او پالني په اړه د اولسي ويښتيا په نيت درسنيو پر له پسې خپروني، په کلتوري چارو کي د تير کال د پر مختياو په اړه کنفرانسونه، د راتلونکي لپاره د کلتوري ودي په اړه د پلانونو وړاندي کول. د موزيمونو، ګالريو، کتابونود نندارتونونو پرانستل، او نور. په دې ډول به د (( کلتوري ويښتيا اونۍ )) دنورو بيلا بيلو کلتوري چارو د ودي او پر مختيا لپاره هڅو ونکې اونۍ وګرځي.
هيله ده چي په هېوادکي د کلتوري چارو واکمنان او د هېواد نور روڼ اندي به د دې وړانديز پلوي وکړي او د پلي کېدو لپاره به خپل غبرګون څرګند کړي. په درنښت

هغه وخت چي د کوشاني سلسلې ستر امپراتور کنشکا (احتمالا ۱۲۰ ميلادي ) د بودايې مذهب لاره خپله کړل، په لرغوني افغانستان کي نوۍ مدنيت زيږيدلی اود پراخيدو زمينه يې برابره شوې وه، چي زموږ د هيواد په تاريخ کي د ګريکو بوديک مدنيت په نوم ياد يږي. دا مدنيت په افغاني کلتور پاله چاپيريال کي ورورو په يوه داسي مدنيت واوښت چي په پخوانۍ نړۍ کي يې ساري نه ليدل کيږي. د دې مدنيت ځانګړتيا دا وه چي له يوې خوا يې د لرغوني

یونان هنري ښکلا له ځان سره درلودل او له بله پلوه يې بودايي روحانيت په ځان کي ونغښت. د دې تمدن ربښې په لرغوني افغانستان کي شنې شوې، وده يې وکړل او بيا نورو ګاونډيو سيمو او هيوادونو ته ورسيدۍ .
تر هغه چي ستر کنشکا بودايې مذهب نه وو خپل کړی، بوديزم د يوي پرتې او بي خوځښته عقيدي په توګه د هند په محدوده کي بندي پاته شوې و. همداډول د لرغوني يونان څخه راغلو هنر مندانو هم د خپلو هنرونواو د ختيځو خيالاتو سره د هغود يو ځاې والي په لار کي ټاکلي ستونزي درلودې .د کنشکا د واکمنۍ پر مهال د افغاني هنر مندانو او ماهرينو په وسيله د ا ستونزي ليري شوې او د يوناني هنر او هندي روحانيت تر منځ د يوالي او تلفيق زمينه منځ ته راغله چي په نتيجه کي د يوه ستر تاريخي تمدن بنسټ کښيښودل شو . دګريکو بوديک تمدن پر هيواد او سيمي هر اړ خيز اغيزي وښندلې، د جاپان، کوريا، او چين څخه بيا تر اوسني ايران او سيستان پوري، د سريلانکا او هندڅخه بيا تر سير دريا او تاجکستان پوري ټولي سيمي يې تر خپلي اغيزي لاندي راوستي وې. د نړۍ له بيلا بيلو سيمو څخه به د مذهبي مراسمو د پر ځای کولو په نيت زيات شمير راهبان، زايرين او سيلانيان، په افغانستان کي د ودان شويو بو دايې زيارتونو او عبادت ځايونو او په ځانګړي ډول د باميان لرغوني او د بو دايې پير متبرک ځای ته د ليدو کتو په نيت سفرونه کول.

پای

*****************